# تابش پوهنتون

## محصلانو چارو معاونیت

## کارموندنې مرکز

**د پوهنځیو په کچه د مهارتونو د تشخیص، ودې او انکشاف لپاره د کارگمارونکو او استخدام شویو فارغانو د نظریاتو ترلاسه کولو میکانیزم**

(د کاري مهارتونو د لوړولو او د اړتیاوو پر اساس د کارموندنې مرکز ته د فارغو محصلینو د معرفي کولو میکانیزم)

**کال:۱۴۰۵**

# فهرست


مقدمه ........ 2
د کړنلارې اړتیا ........ 3
د کړنلارې د تطبیق ساحه: ........ 3
اهداف: ........ 3
د فارغانو لېستونه جوړول ........ 3
د کار گمارونکو څخه سروې ترسره کول: ........ 4
د معلوماتو تحلیل، پایلو ترلاسه کول او راپور جوړونه: ........ 4
د کاري مهارتونو د لوړولو او د هغوی د کاري اړتیا معلومولو پر اساس کارموندنې مرکز ته فارغان ور معرفي کول: ........ 4
د کارموندنې مرکز د خپل پلان له مخې ورکشاپونه او سیمنارونه برابروي: ........ 5
تصویب او تائید: ........ 5

## مقدمه

خصـــوصي پوهنتونونه هغه وخت د حقیقي پرمختګ او ودې جوګه کېږي، چې د تضـــمین کیفیت ځانګړي معیارونه په ســـمه توګه پلي کړي. له دغو معیارونو څخه یو تر ټولو مهم اړخ د فارغانو وړتیا او مهارتونه دي چې د تضـــمین کیفیت د 8.3.4. معیار پر بنسټ. فارغان باید د ټولنې او کاري بازار د اړتیاوو پر بنسټ په لازمه علمي پوهه، عملي تجربو او مسلکي مهارتونو سمبال وي، څو وتوانېږي خپلې دندې او مسلکي مسؤلیتونه په اغېزمن ډول ترسره کړي.

د فارغانو د پوهې، مهارتونو او عملي تجربو کچه نه یوازې د پوهنتون د نصـــاب، درسي پروګرامونو او روزنیزو تګلارو د کیفیت څرګندونه کوي، بلکې د پوهنتون د نوم، اعتبار او ټولنیز باور د لوړولو لپاره هم یوه بنســـټیزه وســـیله ګڼل کېږي. په همدې اساس، د فارغانو د وضعیت ارزونه د هر پوهنځي د دوامدار پرمختګ لپاره خورا مهم ارزښت لري.

د فارغانو تجربې، ستونزې او نظریات د پوهنتون د کیفیت د تضمین او د نصاب د اصلاح لپاره ډېر ارزښت لري. ځکه د هغوی عملي ژوند په څرګنده توګه ښيي چې د پوهنتون درسي پروګرامونه او تدریسي تګلارې تر کومه بریده د کاري بازار له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره برابري لري. د فارغانو له نظریاتو او فیډبک څخه ګټه اخیســتل پوهنتون ته دا زمینه برابروي چې خپلې نیمګړتیاوې وپېژني، قوتونه لا پیاوړي کړي او د داســـې پروګرامونو طرحه وکړي چې راتلونکو محصـــلینو ته په عملي ژوند او مسلکي ساحه کې اسانتیاوې برابرې کړي.

په همدې اساس تابش پوهنتون  د پوهنځیو په کچه د خپلو فارغانو د وضعیت څېړنې، د هغوی د تجربو د راټولولو او د نظریاتو د ترلاســـه کولو لپاره دغه میکانیزم ترتیب کړی دی. د دې میکانیزم موخه دا ده چې د فارغانو او کارګومارونکو له نظره  د مهارتونو د ودې او انکشاف لپاره لازم عملي اقدامات ترسره کړي پوهنځي په درسي نصاب، روزنیزو پروګرامونو او مسلکي روزنه کې شته قوتونه او نیمګړتیاوې په سمه توګه وپېژندل شي، تر څو د کیفیت د ښه والي په راتلونکو پروګرامونو کې په ګټه واچول شي. دغه سروې به د پوهنځي مشرتابه ته دا فرصت ورکړي چې د فارغانو او کاري بازار د غوښتنو تر منځ د یووالي په رامنځته کولو سره د زده کړو کیفیت لوړ کړي، د راتلونکو محصلینو لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې کړي او په پایله کې د پوهنتون ملي او نړیوال اعتبار نور هم زیات کړي.

## د کړنلارې اړتیا

د تضـــمین کیفیت د اتم معیار 8.3.4 معیار او 253 شــاخص په اســاس پوهنځي مکلف دي، چې د پوهنځیو د تایید شـــوي مکانیزم پراســاس خپل محصـلین د کاري مهارتونو د لوړولو او د هغوی د کاري اړتیا معلوملو پر اسـاس کارموندنې مرکز ته ور معرفي کړي ترڅو کمزوري مهارتونه تشـخیص او د مهارتونو د لوړو لپاره عملي اقدام وکړي او بیلابیل سـیمنارونه او ورکشـاپونه ورته دایر کړي .

## د کړنلارې د تطبیق ساحه:

دا کړنلاره د پوهنځي په کچه فارغانو د نظریاتو د مهارتونو د تشخیص وروسته د کاري مهارتونو د لوړولو او د هغوی دکاري اړتیا معلوملو وروسته کارموندنې مرکز ته ورمعرفي کوي ترڅو ورته اړینې برنامې برابرې کړي.

## اهداف:

1. د فارغانو اوسنی وضعیت معلومول، د تابش پوهنتون د فارغانو دندې، مسلکي پرمختګ، او د هغوی د بریالیتوبونو په اړه دقیق معلومات راټولول.
2. د نیمګړتیاوو او تشو پیژندنه، هغه مهارتونه، مضامین یا عملي تجربې مشخصول چې فارغان یې په کاري بازار کې د نشتون له امله له ستونزو سره مخ کړي دي
3. د کاري بازار د اړتیاوو سره د مطابقت رامنځته کول، د فارغانو او کارفرماوو د نظریاتو پر بنسټ د پوهنتون روزنیز پروګرامونه د بازار د اړتیاوو سره سم عیارول.
4. د راتلونکو محصــلینو لپاره د مهارتونو لوړول،د فارغانو له تجربو څخه په ګټې اخیســتنې سره د داســې ورکشــاپونو، کورسونو او عملي پروګرامونو طرح کول چې د محصلینو مسلکي وړتیاوې لوړ کړي.

## د فارغانو لېستونه جوړول

پوهنځی د فارغ‌التحصیلانو د معلوماتو د منظم مدیریت او لاسرسي په موخه، د فارغانو جامع او معیاري لېستونه ترتیبېږي. په دې لېستونو کې د فارغانو اړوند مهم معلومات لکه نوم، د پلار نوم، د پوهنځي او ډیپارټمنټ نوم، د فراغت کال، د اړیکې معلومات، او د دندې وضعیت شامل وي.

دا معلومات د ډیپارټمنټونو په تفکیک سره تنظیمېږي، څو د هرې برخې فارغان په اسانه توګه وپېژندل شي او تحلیل یې اسانه شي. سربېره پر دې، یاد لېستونه په دوامداره توګه نوي کېږي، ترڅو د فارغانو د کاري وضعیت او پرمختګ په اړه تازه معلومات موجود وي.

د فارغانو لېستونه نه یوازې د احصائیوي او تحلیلي موخو لپاره کارول کېږي، بلکې د کارموندنې فرصتونو د شریکولو، د نظر سنجیو د ترسره کولو، او د پوهنتون او فارغانو ترمنځ د اړیکو د ساتلو لپاره هم مهم رول لري.

په پایله کې، د فارغانو د دقیقو او منظم لېستونو شتون د تصمیم نیونې پروسه اسانه کوي او د تعلیمي او کاري پروګرامونو د ښه والي لپاره اغېزمن بنسټ برابروي.

## د کار ګمارونکو څخه سروې ترسره کول:

د فارغانو د مهارتونو او د کار بازار د اړتیاوو د دقیقې ارزونې لپاره، د کارګمارونکو څخه منظمې سروې ګانې ترسره کېږي. دا سروې د دې موخه لري چې د موجوده مهارتونو کچه، د کار بازار غوښتنې، او د فارغانو د عملي وړتیاوو سره د غوښتنو مطابقت په مشخص ډول وپېژندل شي.

په دې بهیر کې، کارګمارونکي د ځانګړو معیارونو او پوښتنلیکونو پر بنسټ ارزول کېږي، چې پکې د تخنیکي مهارتونو، نرمو مهارتونو، د کار تجربه، او د ادارې د اړتیاوو اړوند معلومات راټولېږي. د معلوماتو تحلیل د دې لامل ګرځي چې پوهنتون وکولای شي د مهارتونو د لوړولو هدفمند پروګرامونه او روزنیز ورکشاپونه طرحه او تطبیق کړي.

د سروې پایلې د ادارې د پالیسۍ، د نصاب اصلاح، او د فارغانو د کاري بازار سره د همغږۍ لپاره د پرېکړو بنسټ جوړوي. سربېره پر دې، دا پروسه د پوهنتون او کارګمارونکو ترمنځ د همکارۍ اړیکې پیاوړې کوي او د فارغانو د کارموندنې چانسونه زیاتوي.

## د معلوماتو تحلیل، پایلو ترلاسه کول او راپور جوړونه:

د فارغانو د ظرفیت لوړونې، د مهارتونو د تشخیص، او د کار بازار د اړتیاوو د درک لپاره راټول شوي معلومات په دقیق ډول تحلیل کېږي. دا تحلیل د سروې ګانو، نظر سنجیو، او د کار زده کړو د پروګرامونو پر بنسټ ترسره کېږي، څو د موجوده مهارتونو کچه، د کمزورو برخو تشخیص، او د کار بازار اړتیاوې په واضح ډول مشخصې شي.

د معلوماتو تحلیل وروسته، پایلې مستند کېږي او د هرې برخې لپاره راپورونه چمتو کېږي. دا راپورونه د پوهنتون د رهبرۍ، پوهنځیو، او اړوندو ځانګو سره شریکېږي، ترڅو د راتلونکو روزنیزو پروګرامونو، ورکشاپونو، او د مهارتونو د لوړولو لپاره دقیق تصمیمونه ونیول شي.

په پایله کې، د معلوماتو تحلیل او راپور جوړونه د پروسې د شفافیت، د پرېکړو د کیفیت لوړولو، او د محصلینو او فارغانو د کارموندنې د فرصتونو زیاتولو لپاره مهمه وسیله ده.

## د کاري مهارتونو د لوړولو او د هغوی د کاري اړتیا معلوملو پر اساس کارموندنې مرکز ته فارغان ور معرفي کول:

د فارغانو د کاري وړتیاوو د پیاوړتیا او د کار بازار اړتیاوو د ښه درک لپاره، لومړی د هغوی مهارتونه تشخیص او د کاري اړتیاوو پر اساس ارزول کېږي. په دې پروسه کې د فارغانو تخنیکي او نرمو مهارتونه، د تخصصي وړتیاو کچه، او د کار بازار سره د مطابقت ظرفیت مشخص کېږي.

د دې تحلیل پر بنسټ، فارغان د کارموندنې مرکزونو ته معرفي کېږي، څو له موجوده فرصتونو څخه په اغېزمنه توګه ګټه پورته کړي. د کارموندنې مرکزونه د فارغانو د مهارتونو سره سم د مناسبې دندې یا انټرنشیپ (Internship) فرصتونه برابروي، او هغوی ته د کاري بازار د اړتیاوو په اړه عملي لارښوونې او مشورې ورکوي.

## د کارموندنې مرکز د خپل پلان له مخې ورکشاپونه او سیمنارونه برابروي:

د کارموندنې مرکز د خپل پلان او د کار بازار د اړتیاوو پر بنسټ، هدفمند ورکشاپونه او سیمینارونه تنظیموي. دغه پروګرامونه د فارغانو او محصلینو د مهارتونو د لوړولو، عملي تجربې د ترلاسه کولو، او د مسلکي وړتیاوو د پیاوړتیا لپاره برابریږي.

ورکشاپونه او سیمینارونه په داسې ډول جوړېږي چې ګډونوال وکولای شي د تخنیکي مهارتونو او نرمو مهارتونو په برخه کې عملي زده کړې وکړي. سربېره پر دې، د صنعت متخصصین او تجربه لرونکي کارپوهان ګډونوالو ته لارښوونې او عملي مثالونه وړاندې کوي، څو هغوی د کاري چاپېریال سره بلد شي او د کار بازار د غوښتنو لپاره چمتو شي.

په پایله کې، د کارموندنې مرکز له خوا د ورکشاپونو او سیمینارونو تنظیم د فارغانو او محصلینو ظرفیت لوړوي، د هغوی د کارموندنې فرصتونه زیاتوي، او د پوهنتون او بازار ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ بنسټ پیاوړی کوي.

---

## تصویب او تائید:

د پوهنځیو په کچه د مهارتونو د تشخیص، ودې او انکشاف لپاره د کارګمارونکو او استخدام شویو فارغانو د نظریاتو ترلاسه کولو میکانیزم د پوهنتون د ستراتیژیک پلان کمېټه کې په ( ۱۴۰۵/۱/۳۱) نېټه مجلس کې د هر اړخیز بحث وروسته په(۰۱) پروتوکول کې ثبت دی

کمېټې مشر

د پوهنځیو په کچه د مهارتونو د تشخیص، ودې او انکشاف لپاره د کارګمارونکو او استخدام شویو فارغانو د نظریاتو ترلاسه کولو میکانیزم د علمي شورا په ( ۱۴۰۵/۱/۳۱) نېټه مجلس کې د هر اړخیز بحث وروسته په(۰۱) پروتوکول کې ثبت دی

د علمي شورا منشي د علمي شورا مشر